# په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت:

د ۲۰۲۴ کال اپریل - جون میاشتو تازه راپور

د **بشري حقونو** لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر

**په افغانستان کې** د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## د دې راپور په اړه

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه دغه تازه معلومات چې د ۲۰۲۴ کال[1] له اپریل څخه تر جون پورې موده تر پوښښ لاندې نیسي، د هغې خارنې پر بنسټ ولاړ دی چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د ورکړل شوي ماموریت له مخې ترسره شوې.[2]

## د ښځو او نجونو حقونه

د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵نېټه د طالبانو له خوا پر افغانستان تر ولکې وروسته، *برحاله* چارواکو زیاترو ښځینه ملکي کارمندانو ته امر کړی چې په کور کې پاتې شي، په استثناء د هغو ښځو چې د روغتیا، زده کړو او امنیت په برخو کې کار کوي. د جون پر ۲ نېټه، *برحاله* د چارو اداري لوی ریاست یو شمېر *برحاله* ولایتي ریاستونو ته یو مکتوب صادر کړ په کوم کې چې لارښوونه شوې چې د رتبې په پام کې نیولو پرته د تېر جمهوریت د اداري له لورې پر دندو د ګمارل شویو ښځینه کارکوونکو میاشتنی معاش ۵۰۰۰ افغانۍ (شا و خوا ۷۰ امریکایي ډالر) "یو شان" کړي. د جون په وروستیو کې، د ښځینه کارمندانو د معاشونو د "یو شان کولو" د تطبیق د څرنګوالي په اړه د توضیحاتو د ترلاسه کولو په موخه د پوهنې وزارت له خوا د *برحاله* چارواکو مشرتابه مقام ته یوه لیک تر استولو وروسته *برحاله* د پوهنې یو شمېر ریاستونو د خپلو ښځینه کارمندانو د معاشونو د بندولو امر وکړ. د جولای پر ۷ نېټه، *برحاله* مالیې وزارت یو مکتوب خپور کړ چې روښانه یې کړه چې دغه امر پر هغو ښځینه ملکي کارمندانو د تطبیق وړ دی "څوک چې هره ورځ کار ته نه حاضرېږي یا د وظایفو له لایحې سره سم خپلې دندې نه ترسره کوي" او پر هغو ښځو باندې نه پلي کېږي چې کار ته حاضرېږي او د دوی د وظایفو له لایحې سره سم خپلې دندې ترسره کوي.

همدارنګه د ښځو د کار او د تګ راتګ د ازادۍ پر حقونو نور محدودیتونه لا اوس هم پلي کېږي:

- د مې پر ۲نېټه، *برحاله* د استخباراتو عمومي ریاست په زوره د ښځو په مشرۍ یوه نادولتي موسسه له دې امله وتړله چې خپل یو شمېر ښځینه کارمندانو ته یې دفتر ته د حاضرېدو اجازه ورکړې وه.[3] د نادولتي موسسې دفتر د دې ژمن لیک له لاسلیک کولو وروسته چې خپلو ښځینه کارمندانو ته به دفتر ته د تګ اجازه نه ورکوي، څو ورځې وروسته بېرته پرانیستل شو.
- د مې پر ۲۰ نېټه په زابل ولایت کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر چارواکو ترانسپورتي شرکتونو او د بوستو قوماندانانو ته لارښوونه وکړه چې ښځې دې له محرم پرته[4] له سفر کولو څخه، د *برحاله* وزارت له فرمان سره سم منع کړي.[5] دوی خبرداری ورکړ، هغه کسان چې له دې فرمان څخه سرغړونه کوي له سختو عواقبو سره به مخ شي.

## ملکي تلفات

د اپریل او جون ترمنځ، یو شمېر پېښې چې مسؤلیت یې د اسلامي دولت خراسان ولایت له خوا پر غاړه اخیستل شوی د ملکي مړګ ژوبلې لامل شوې. د اسلامي دولت خراسان ولایت له خوا د خپرو شویو ادعاګانو له مخې، پېښې شیعه مسلمانان او *برحاله* چارواکي په نښه کړي:

- د اپریل پر ۲۰ نېټه د کابل ښار د درییمې ناحیې، ګولایي دواخانې په سیمه کې، د لاس جوړ چاودیدونکو توکو چاودنې د ملکي وګړو یو مینی بس په نښه کړ، چې لږ تر لږه څلور نارینه یې ټپیان کړل.[6] د اسلامي دولت خراسان ولایت له خوا د مسؤلیت په ادعا کې په ډاګه شوې چې چاودنه په یوه بس کې

[1] په دې معلوماتو کې کارول شوې نېټه د ۲۰۲۴ کال ده، البته که د بل مشخص تاریخ یادونه شوې وي.
[2] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک نمبر ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) پریکړه لیک په اساس تمدید شو.
[3] ځای د امنیتي دلایلو له مخې پټ ساتل شوی دی.
[4] د زابل اطلاعات او فرهنګ ریاست [@ICzabul]،X (پخوانی ټویټر)، ۲۰ می ۲۰۲۴، د شپې ۱۰:۴۳ بجې. د لاسرسي وړ: https://t.co/ZECRqp73te [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۹ نېټه کتل شوی].
[5] د ۲۰۲۱ کال د دسمبر په ۳۱، د امربالمعروف و نهی عن المنکر *برحاله* وزارت ټویټ وکړ چې "هغه ښځه چې په الله او د آخرت په ورځ باور لري اجازه نه لري چې یوازې د دریو ورځو او شپې څخه زیات سفر وکړي. دا [ ترجمه کوي] ... ۴۵ مایل یا ۷۸ کیلومتره [سفر]. منبع: د امربالمعروف، نهي عن المنکر او د شکایتونو اوریدلو وزارت [@MOPVPE1]، X (پخوانی ټویټر)، ۳۱ دسمبر ۲۰۲۱ کال، د ماسپښین ۴:۴۵ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1476889768357150729?s=20&t=7TuX4pPt6OQEvsPvgZDDFA [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جون پر ۲۷ نېټه کتل شوی].
[6] طلوع نیوز، [@TOLOnews]، X (پخوانی ټویټر)، ۲۰ اپریل ۲۰۲۴، د شپې ۹:۱۳ بجېږ د لاسرسي وړ: https://x.com/TOLOnews/status/1781725325962928228 [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۹ نېټه کتل شوی].

چې شیعه مذهبه وګړي په کې سپاره وو او له یوې پوستې څخه تېریده وشوه چې شیعه مسافرو او برحاله امنیتي کارکوونکو ته یې مرګ ژوبله واړوله.

- د اپریل پر ۲۹ نېټه د هرات ولایت د ګذرې ولسوالۍ د اندېشه په ښارګوټي کې یوه وسله وال د صاحب الزمان په جومات کې چې د شیعه ګانو عبادت ځای دی، پر لمونځ کوونکو ډزې وکړې چې له امله یې شپږ تنه (څلور نارینه، یوه ښځه او یو هلک) ووژل شول او یوه ښځه ټپي شوه.[۷]
- د مۍ پر ۱۷ نېټه د بامیانو ښار د مرکزي بازار په سیمه کې، وسله والو پر دوو موټرو چې د سیلانیانو یوه ډله یې لېږدوله، ډزې وکړې چې له امله یې پنځه لویان (دوه افغان نارینه او درې هسپانویان، یو نارینه او دوه ښځینه) ووژل شول او شپږ تنه نور ټپیان شول (دوه افغان نارینه او څلور بهرني اتباع د استرالیا، ناروې، هسپانیا او لیتوانیا څخه).[۸]
- د مۍ پر ۲۰ نېټه په کندهار ولایت کې، د کندهار ښار لسمې ناحیې د کابل بس ترمینل ته څېرمه د لاس جوړ چاودیدونکو توکو یوه وسیله وچاودیده، چې یو ملکي وګړی یې وواژه او لږ تر لږه درې نور یې ټپیان کړل.[۹]

## په بدخشان کې د کوکنارو د کښت د پاکولو عملیات

د مۍ او جون په میاشتو کې، *برحاله* امنیتي ځواکونو په بدخشان ولایت کې د کوکنارو کروندو د پاکولو لپاره یو لړ عملیات ترسره کړل. په ډیرو مواردو کې *برحاله* امنیتي ځواکونو د ځایي اوسیدونکو پر هغې ګڼې ګوڼې ډزې کړي چې د دوی د فصلونو د ویجاړولو له امله یې لاریون کاوه، په تولیز ډول لږ تر لږه ۱۷ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده:

- د مۍ پر ۳ نېټه د درایم ولسوالۍ په قرلق کلي کې، د ولسوال وسله والو ساتونکو د لاریون کوونکو پر ګڼې ګوڼې ډزې وکړې، یو کس ټپي او یو بل ووژل شو. . *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته راپور ورکړی چې کرونډګرو په *برحاله* پولیسو برید کړی، *برحاله* پولیسو د خیل ځان ژغورنې دپاره هوایي ډزې کړي چې یو کس وژل شوی. د قتل مرتکب د پېژندلو دپاره څېړنې رواني دي.
- د مۍ پر ۴ نېټه د ارګو ولسوالۍ د نوآباد په کلي کې برحاله امنیتي ځواکونو د لاریون کوونکو پر ګڼې ګوڼې ډزې وکړې چې یو کس ووژل شو.
- د مۍ پر ۱۳ نېټه د ارګو ولسوالۍ د برلاس په کلي کې، *برحاله* امنیتي ځواکونو د لاریون کوونکو پر یوه ګڼه ګوڼه ډزې وکړې، دوه نارینه ووژل شول او ۱۰ نور ټپیان شول (یو هلک، نهه لویان نارینه). *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته راپور ورکړی چې کرونډګرو په *برحاله* پولیسو برید کړی، مقابل کې یې *برحاله* پولیسو هوایي ډزې کړې چې په پایله کې یې یو لاریون کوونکې وژل شوی او نهه نور ټپیان شوي دي.
- د جون پر ۲۶ نېټه د خاش ولسوالۍ د کرزی نشر په سیمه کې د *برحاله* امنیتي ځواکونو له ځایي اوسیدونکو سره په داسې حال کې نښته وشوه چې په سیمه کې د کوکنارو د اړولو هڅې رواني وې. دوه نارینه هغه مهال وویشتل او ټپیان شول چې امنیتي ځواکونو پر کلیوالو ډزې وکړې. *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته راپور ورکړی چې کرونډګرو په *برحاله* پولیسو برید کړی، مقابل کې یې *برحاله* پولیسو هوایي ډزې کړې چې په پایله کې یې دوه لاریون کوونکي ټپیان شوي دي.

د مۍ پر ۴ نېټه، د *برحاله* چارواکو ویاند، ذبیح الله مجاهد، د اکس[۱۰] پر پاڼه د یوې بیانیې له لارې اعلان وکړ چې "د کوکنارو

[۷] مفتي عبدالمتین قانع [@abdulmateenqani]، X (پخوانی ټویټر)، ۲۹ اپریل ۲۰۲۴. منبع: https://twitter.com/abdulmateenqani/
status/1785042766948606233؛ نثار احمد الیاس [@MnisarElias1]، X (پخوانی ټویټر)، ۳۰ اپریل ۲۰۲۴، د ماسپښین ۱۲:۳۱ بجې. د لاسرسي وړ:
https://x.com/MnisarElias1/status/1785217999676252252 [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۹ نېټه کتل شوی].
[۸] مفتي عبدالمتین قانع [@muftiqani]، X (پخوانی ټویټر)، ۱۷ مۍ ۲۰۲۴، د شپې ۸:۵۸ بجې. د لاسرسي وړ: https://x.com/muftiqani/
status/1791506003504099732 [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۹ نېټه کتل شوی].
[۹] د کندهار امنیه قوماندانی مطبوعاتی دفتر [@Qumandani_KDR]، X (پخوانی ټویټر)، ۲۰ مۍ ۲۰۲۴، د سهار ۱۰:۴۴ بجې. د لاسرسي وړ: https://x.com/
Qumandani_KDR/status/1792438720144044237 [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۹ نېټه کتل شوی].
[۱۰] ذبیح الله مجاهد، [@Zabehulah_M33]، X (پخوانی ټویټر)، ۴ مۍ ۲۰۲۴، د ماسپښین ۱۱:۵۱بجې. د لاسرسي وړ:
https://x.com/Zabehulah_M33/status/1786838702213280018 [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۲ نېټه کتل شوی].

د له منځه وړلو بهیر او په بدخشان کې د رامنځته شویو ستونزو" د څېړلو لپاره یوه کمیټه جوړه شوې ده. په خبرپاڼه کې راغلي: "په خواشینۍ سره داسې پېښې شوې دي چې متخلفینو د کوکنارو له کښت سره د مبارزې په برخه کې پر امنیتي ځواکونو د برید هڅه کړې، چې په پایله کې یې غمجنې پېښې رامنځته شوې دي" هغه وویل چې کمېټې ته دنده سپارل شوې وه چې د پېښې هر اړخیزه څېړنه وکړي او تفصیلي راپور یې *برحاله* رئیس الوزرا ته وړاندې کړي. د څېړنو د پرمختګ په اړه نور معلومات له خلکو سره نه دي شریک شوي.

## د پولې په اوږدو کې پېښې

د مې په میاشت کې په پکتیا او خوست ولایتونو کې د پولې دواړو خواوو ته یو لړ پېښې په افغانستان کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوې.

- د مې پر ۱۷ نېټه د پکتیا ولایت په څمکنۍ او ډنډ پټان ولسوالیو کې د *برحاله* امنیتي ځواکونو او پاکستاني پوځیانو ترمنځ وسله واله نښته وشوه چې د ۲۱ ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوه. د څمکنۍ ولسوالۍ په اندړو کلي کې دوه نارینه ووژل شول او دوه ښځې، یو نارینه او یو هلک ټپیان شول او د کیګنۍ او کیمتی په کلیو کې دوه ښځې او څلور نارینه وژل شوي او نهه ملکي وګړي ټپیان شوي دي.
- د مې پر ۲۹ نېټه د خوست ولایت د ګربز ولسوالۍ د زانشورا په سیمه کې د *برحاله* امنیتي ځواکونو او پاکستاني پوځیانو تر منځ وسله واله نښته وشوه چې په پایله کې یې څلور ملکي وګړي ووژل شول (یوه نجلۍ ووژل شوه، درې نجونې ټپي شوې).

په افغانستان کې د پاکستان سفارت په ډاګه کړه چې د مې پر ۱۷ یا ۱۹ نېټه، *برحاله* امنیتي ځواکونو سره د اور تبادله نه ده ثبت کړې چې په پایله کې یې ملکي وګړو ته مرګ ژوبلې اوښتې وي.

د جولای پر دویمه نېټه له بي بي سي سره په مرکه کې، د پاکستان د دفاع وزیر خواجه آصف وویل: "دا سمه ده چې موږ په افغانستان کې عملیات ترسره کول، او موږ به دغه کار ته دوام ورکړو ... که برید وشي، موږ هم بیرته برید کوو".[۱۱]

## د رسنیو آزادي

د مارچ پر ۳۱ نېټه د *برحاله* عدلیې وزارت تر اعلان وروسته چې سیاسي ګوندونه یې منع کړل،[۱۲] ګڼ شمېر رسنۍ د ادعا شوي سیاسي تړاو له امله وترل شوې.

- د اپریل پر ۱۶ نېټه *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت او د رسنیزو سرغړونو کمیسیون پرېکړه وکړه چې د ملي او اسلامي ارزښتونو څخه د سرغړونې په تور د بریا او نور تلویزیونونو فعالیتونه وځنډوي. دواړه چینلونه له سیاسي ګوندونو سره تړلي وو.
- د جون پر ۷ نېټه *برحاله* عدلیې وزارت اعلان وکړ چې د تمدن تلویزیون خپروني به له سیاسي ګوند سره د تړاو له امله وځنډول شي، او د هغې ودانۍ په *برحاله* چارواکو پورې په اړوند څمکه کې موقعیت لري.[۱۳] په هرصورت، د نوموړې رسنۍ خپرونو د دغه سند تر خپرېدو پورې دوام درلود.

*برحاله* چارواکو دغه راز د "بهر میشتو رسنیو" فعالیتونو محدودولو ته دوام ورکړی کومو چې د طالبانو له خوا بېرته د واک له ترلاسه کولو وروسته خپلې چارې له هیواد څخه بهر پرمخ بیایې او د افغان مخاطبینو لپاره یې د رسنیزو مطالبو چمتو کول جاري ساتلي.

- د مې پر ۴ نېټه په پروان ولایت کې، یو خبریال له بهر میشتي یوې رسنۍ سره د معلوماتو د شریکولو په تور ونیول شو. هغه درې ورځې وروسته خوشې شو.
- د مې پر ۸ نېټه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت په مشرۍ د رسنیو د سرغړونو کمیسیون، بهر میشتې رسنیز چینل افغانستان انټرنیشنل راډیو تلویزیون له مسلکي

[۱۱] بی بی سی اردو، «پاکستان به په افغانستان کې حملو ته ادامه ورکړي - وزیر»، ۲ جولای ۲۰۲۴. د لاسرسي وړ: https://www.bbc.com/news/articles/c7289yvl84po [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۲ نېټه کتل شوی].
[۱۲] د یوه مطبوعاتي کنفرانس پر مهال، *برحاله* د عدلیې وزیر په ډاګه کړه چې تېر کال په عدلیې وزارت کې د سیاسي ګوندونو ریاست لغوه شوی او سیاسي ګوندونه ناقانوني ګڼل کېږي. سرچینه: طلوع نیوز، [@TOLOnews]، X (پخوانی ټویټر)، ۳۰ مارچ ۲۰۲۴، د ماسپښین ۳:۱۴ بجې. پر دغې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/TOLOnews/status/1774034330727096571 (پښتو) [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۲ نېټه کتل شوی].
[۱۳] RTA دري، [@rtadari1]، X (پخوانی ټویټر)، ۷ جون ۲۰۲۴، د سهار ۹:۳۶بجې. د لاسرسي وړ : https://x.com/rtadari1/status/1798944626210140360?s=12 (دري) [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جون پر ۲۲ نېټه کتل شوی].

چلند شخه په سرغړوني تورن کړ او له خبریالانو یې وغوښتل چې له دوي سره له همکارۍ ځخه ډډه وکړي.

خبریالان هم د اخلاقو په تړاو لکه ښنګه چې د *برحاله* چاراوکو له خوا تعریف شوي له محدودیتونو سره مخ دي. د اپریل پر ۲۲ نېټه په خوست ولایت کې، د دریو بېلا بېلو راډیوګانو درې کارکوونکي د راډیويي خپرونو پر مهال د موسیقۍ غږولو او د ښځو د ټلیفوني اړیکو د تر لاسه کولو په تور د *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا تر پوښتنو ګروېږنو لاندې ونیول شول. دوی شپږ ورځې وروسته بېرته خوشې شول.

## پخواني حکومتي چاراوکي او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي[۱۴]

د اپریل د لومړۍ نېټې او جون د ۳۰ ترمنځ، د یوناما د بشري حقونو څانګې د خپلسري نیونو او توقیف لږ تر لږه ۶۰ مورده، د شکنجې او ناوړه چلند، لفظي ګواښونو لږ تر لږه ۱۰ مورده او د پخوانیو حکومتي چاراوکو او د افغانستان د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو لږ تر لږه پنځه وژنې (څلور د نامعلومو کسانو له خوا، یو د *برحاله* چاراوکو له خوا) مستند کړي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د هغو افرادو په وړاندې چې افغانستان ته په زور راستانه شوي د داسې سرغړونو راپورونه ترلاسه کړي کوم چې د شکنجې، ناوړه چلند او د نورو نه جبران کېدونکي زیانونو دوامداره خطر په ډاګه کوي چې دوي ورسره تر بېرته ستنېدو وروسته مخ کېږي.

## بدني سزا

*برحاله* چاراوکو په منظم ډول په عام محضر کې د قضایي بدني سزاګانو پلي کول جاري ساتلي او ځینې وختونه دغه سزاګانې پر زیات شمیر وګړو په ګروپي ډول تطبیق شوي. د مثال په ډول، د جون پر ۴ نېټه په سرپل ښار کې ۶۳ کسان (۴۸ نارینه او ۱۵ ښځې) چې په مختلفو جرمونو لکه وسله واله غلا، زنا، له کوره تېښته او لواطت محکوم شوي وو، د *برحاله* چاراوکو له خوا په عام محضر کې په دورو ووهل شول.[۱۵] هر کس د ۱۵ او ۳۹ ترمنځ دورې وهل شوی.

د اپریل د لومړۍ او جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، د یوناما د بشري حقونو څانګې د لږ تر لږه ۱۷۹ افرادو پر ضد (۱۴۷ نارینه، ۲۸ ښځې او څلور هلکان) قضایي بدني مجازات مستند کړي.

## عدلي اجراآت

د اپریل او جون تر منځ، *برحاله* مختلفو وزارتونو د عدلي اجراآتو په اړه خبر ورکړی:

- د اپریل پر ۱۲ نېټه، *برحاله* د عدلیې وزارت د تقنین ریاست رئیس په ډاګه کړه چې وزارت د شریعت پلي کولو ته ژمن دی او د پخواني حکومت قوانین په هیواد کې لغوه شوي دي.[۱۶] د اپریل پر ۲۷ نېټه، *برحاله* عدلیې وزیر په یوه ویډیو کې یو ځل بیا د دې یادونه وکړه چې شریعت یو بشپړ نظام دی، او ټولې هغه ادعاوې یې رد کړې چې په افغانستان کې د قانون تشه موجوده ده.[۱۷]
- د جون پر ۱۲ نېټه، کابل ټایمز، چې یوه دولتي رسنۍ ده، یوه مقاله خپره کړه چې د خلکو لپاره د عدالت په تامین کې د قضائیه قوي اهمیت یې په ډاګه کړی، او د دې یادونه یې کړې چې د قاضیانو په توګه د غیر مسلکي کسانو ټاکل او دا حقیقت چې ځینې قاضیان "قضیې په شفاف ډول او د قانون له مخې نه حل

[۱۴] افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه (ANDSF) یوه چترۍ اصطلاح ده چې د افغانستان د پخواني حکومت امنیتي ځواکونو ته کارول کېږي او په دې کې راتلونکي هغه شامل دي: افغان سرحدي ځواک، افغان محلي پولیس، افغان ملي اردو، افغان هوايي ځواک، افغان ملي پولیس، د افغانستان ملي ملکي نظم ځواک، افغان ځانګړي ځواکونه، افغان ځمکني پوځ (د افغان ملي اردو - سیمه ایز ځواک په نوم هم یادیږي)، او د ملي امنیت ریاست.

[۱۵] د افغانستان اسلامي امارت *برحاله* ستره محکمه [@SupremeCourt_af]، X (پخوانی ټویټر)، ۴ جون ۲۰۲۴، د ماسپښین ۵:۱۸ بجې. د لاسرسي وړ: https://x.com/SupremeCourt_af/status/1797973638513308036 [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۲ نېټه کتل شوی].

[۱۶] طلوع نیوز، «د اسلامي امارت مشر اوه نوي قوانین توشیح کړل»، ۱۲ اپریل ۲۰۲۴. د لاسرسي وړ: https://tolonews.com/afghanistan-188271 [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۲ نېټه کتل شوی].

[۱۷] د افغانستان د اسلامي امارت *برحاله* د عدلیې وزارت [@MojAfghanistan]، X (پخوانی ټویټر)، ۲۷ اپریل ۲۰۲۴، د سهار ۹:۱۲ بجې. د لاسرسي وړ:
(۱) https://x.com/MojAfghanistan/status/1784078062528729210،
(۲) https://x.com/MojAfghanistan/status/1784078054047797585،
(۳) https://x.com/MojAfghanistan/status/1784078036565897504، [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د می پر ۵ نېټه کتل شوی].

کوي"، د محکمې پر سیستم د بې باورۍ لامل کېږي او د خلکو حقونه تر پښو لاندې کوي.[۱۸]

- د جون پر ۱۵ نېټه، *برحاله* سترې محکمې اعلان وکړ چې د لوی اختر په مناسبت ۳۴۹ بندیان له زندانونو خوشې شوي او د ۲۷۰ نورو په سزاګانو کې کموالی راغلی دی.[۱۹]
- د جون پر ۲۲ نېټه، آریانا نیوز یوه مرکه خپره کړه په کومه کې چې *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون اداري اعلان وکړ چې د زندان نفوس نږدې ۲۰ زره بندیانو ته رسېدلی، چې ۱۵۰۰ يې ښځې او ۶۰ يې بهرني اتباع دي.[۲۰] د اپریل پر ۲۰، *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون اداري د نظامي چارو مرستیال راپور ورکړ چې د زندان په نفوس کې شا و خوا له ۲۰۰ تر ۲۵۰ پورې د *برحاله* چارواکو غړي او شا و خوا له ۳۰۰ تر ۶۰۰ پورې بندیان چې د *برحاله* محکمو له خوا په اعدام محکوم شوي، شامل دي.[۲۱]
- *برحاله* سترې محکمې د بندیانو د نظارت د یقیني کولو په پار خپلې هڅې جاري ساتلې، چې د *برحاله* استیناف محکمې پلاوي په منظمه توګه له ولایتي زندانونو څخه لیدنه کوي ترڅو له بندیانو سره خبرې وکړي او د *برحاله* زندان چارواکو سره اړیکه ونیسي. د نیمروز، کنړ، میدان وردګو، هرات، کندز، دایکندي، تخار او غزني له زندانونو څخه د لیدنو خبر ورکړل شوی.[۲۲]

[۱۸] کابل تایمز، «عدالت، عدلي ارګانونه د قضایاوو په حل کې باید چټک او روښتیا ولري»، ۱۲ جون ۲۰۲۴. د لاسرسي وړ: https://thekabultimes.com/justice-judicial-organs-should-be-quick-transparent-in-resolving-cases/ [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۲ نېټه کتل شوی].
[۱۹] د افغانستان د اسلامي امارت *برحاله* ستره محکمه [@SupremeCourt_af] ، X (پخوانی ټویټر)، ۱۵ جون ۲۰۲۴، د ماسپښین ۳:۲۱ بجې. د لاسرسي وړ: https://x.com/SupremeCourt_af/status/1801930618176991487 [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جون پر ۱۶ نېټه کتل شوی].
[۲۰] آریانا نیوز، «د افغانستان اسلامي امارت ۶۰ بهرنیان په زندان کې ساتلي» ۲۱ جون ۲۰۲۴. د لاسرسي وړ: https://www.ariananews.af/iea-holds-60-foreigners-in-prisons/ [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۲ نېټه کتل شوی].
[۲۱] شمشاد نیوز [@ShamshadNews] ، یوتیوب، ۱۹ اپریل ۲۰۲۴. د لاسرسي وړ: https://www.youtube.com/watch?v=IpNt6SgdEKs [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر ۲۵ نېټه لیدل شوی]؛ شمشاد نیوز [@Shamshadnetwork]، X (پخوانی ټویټر)، ۲۰ اپریل ۲۰۲۴، سهار ۱۰:۱۰ بجې. د لاسرسي وړ: https://x.com/Shamshadnetwork/status/1781558663649333712، [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر ۲۵ نېټه کتل شوی].
[۲۲] د افغانستان اسلامي امارت *برحاله* ستره محکمه [@SupremeCourt_af]، X (پخوانی ټویټر).
(۱) https://x.com/SupremeCourt_af/status/1788482742788804844؛
(۲) https://x.com/SupremeCourt_af/status/1794992844144533880؛
(۳) https://x.com/SupremeCourt_af/status/1795037286054101234؛
(۴) https://x.com/SupremeCourt_af/status/1795401353533227153؛
(۵) https://x.com/SupremeCourt_af/status/1797205712541503625؛
(۶) https://x.com/SupremeCourt_af/status/1797576036248686658؛
(۷) https://x.com/SupremeCourt_af/status/1798256762308710415؛
(۸) https://x.com/SupremeCourt_af/status/1798599937057497340.
[ ټول پورتني ټویټونه په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د جولای په ۲۲ نېټه کتل شوی].